ولی محمد نورزی ۲۰۱۱/۰۳/۰۵

# په افغانستان کي د فوځي اډو شتون او ضرورت

د افغانستان د روان کړکيچن حالت په دننه کي د امريکا د فوځي اډو جوړول د افغانانو د نظر د څيړني او بحث لاندي موضوع اوس ډيره ګرمه او توده ده. زياترو دوستانو خپل نظر د خپلی ځانګړی زاويه او شخصي سوچ او درک له لاری څرګند کړي دي. ولي د ټولو دوستانو نظر ته په درنښت کتلو سره غواړم خپل نظرهم څرګند کړم.

د افغانستان ملي اردو او ملي فوځ تر اوسه پوري دهيواد په کچه په جنګي بمباردونکی الوتکو، جنګي کشفی او محاربوي الوتکو او هليکوپترونو، درونو جنګي زغره والو ټانکونو، دهوايی مدافعي قواوو، دتو پچي زغره والو قواوو، د توپچي لنډ منزله او اوږد منزله رياکتيفي قوي او د رادار فعال سيستم دستګاوی او همدارنګه په ډول ډول جنګي محاربوي ماشينونو سره مجهز او سمبال ندي. سر بيره پر دي د افغانستان په ملی فوځ کي جنګي مسلکی روزل شوی پرسونل، مسلکی جنګي محاربوي افسران او د جنګي وسايلو د تخنيک ماهر کسانو کمبود هم له ورايه ښکاري. په افغانستان کی د امريکی او ناټو د لسوکلنو په شتون کی بيا هم دغه نيمګړ تياوي پوره نشوي. د افغانستان په سياسي ډګر کي سياسي ګوندونه په رسمی توګه تر سلو نه زيات شول، د ملی فوځ لوړ پوړی چارواکي (جنرالان او مارشال) بيله دي چه د تعليم مسلکي حربي زده کړي ولري د مجاهيدنو او جنګ سالارانوکی له ډلي څخه دي، او د ملي فوځ لوړ پوړي چارواکي هم زياتره د کورني جنګ د مشهورو قوماندانانو څخه دي چه مسلکی وړتيا نلري او يواځی د توپک او کلاشنيکوف سره آشنا دي او د همدغو سياسي ګوندونو له ډلو څخه دي. د ملي اردو پخواني مسلکي افسران چه په ترکيه، روسيه او نورو هيوادو کی يی لوړ عالی تحصيلات درلودل د ملی فوځ له تشکيل څخه ګوښه کړل شول او نوي ملی فوځ د فني، تخنيکي او مسلکي افسرانو د روزلو لپاره يواځي په لنډو کورسونه سره اکتفا وکړه، فوځی مسلکی روزنه په ډير ځنډ سره په ټپه ولاړه ده، او د راتلونکي زبر دست مجهز ملي فوځ هيڅ نښي او نښاني په سترګو نه ليدل کيږي او جنګي مورال او روحيه هم ډيره کمزوره شوی ده. نو له دی کبله زمونږ ملي فوځ د کورني او بهرني يرغل په مقابل کي د کوچني مقاومت توان هم نلري او له ځانه څخه کلکه دفاع نشی کولاي.

د ايساف، ناټو، امرکايی قواوو او ملي فوځ ترمنځ هم ريښتني همکاری او مساعدت وجود نه لري. محاربوی دسپلين او لوړه جنګي روحيه نشته. افغانی سربازان او فوځی افسران د ملي اردو په منځ کی د يوه ځانګړي پلان له مخي د محاربوی او جنګي تکتيک د عملی کولو پړاو ته ندی رسيدلي. مسلکي او حربی تجربی يی کمزوری دي نو څنګه کيدای شي چه مونږ د خپلی خاوري د ځمکني تماميت او دغليمانو په مقابل کي په تش لاس و جنګيږو او د خود غرضو ګاونډيانو د حملو په دفاع کي بيا په کلکه ودريږو. د امريکی دولت له اوله سره نه، نه غوښتل چه زمونږ ملي فوځ په پښو ودروي او نه هم اوس غواړي چه دا کارسرته ورسيږي. دا ځکه د لسو کالو په درشل کي مونږ اوس يوه پر مخ تللی جنګي عسکری فرقه هم نلرو او يواځی په فوځی غونډونوسره د هيواد په کچه سمبوليک رول لوبوو. زمونږ پخوانی سل کلنه اردو او د ملي فوځ محاربوي، ترانسپورتي، تخنيکي، مخابروي، کشفي او جنګی پرسونل د ټولو جنګي وسايلو سره قصدًا په بشپړه توګه له منځه ولاړي، او تر ننه پوري مونږ خپلواک پياوړي ملي ځواکمن او سر لوړ ملی فوځ نلرو او بل ته د انتظار وختونه تيروو، ترڅو پخپل لاس خپل ملي فوځ او اردو له سره جوړه کړو او پرپښو يی ودروو. دا ځکه چه ديوه آزاد او مستقل هيواد لپاره يوه مجهز فوځ او ځواک منه اردو د عامو ضروورياتو څخه ګڼل کيږي. ولی په دی ورځو کي امريکايان د افغانستان د ملي فوځ د جوړولو او سمبالولو لپاره د ميليونونو ډالرو په لګښت د وعدو ناری او چيغي وهي که دا کار د حقيقت او صداقت پر بنسټ سرته ورسيږي نو هله کيدای شي چه مونږ به په خپله ملی اردو ونازيږو او دغليم په مقابل کی به هم د جګړی او مقامت توان ولرو.

که امريکا وغواړي چه خپلي فوځی اډئ په افغانستان کی ولري نو دا بيا د امريکا او افغانستان په اړيکو پوری اړه لري. امريکا د افغانستان خاوری ته په خپله اراده بيله کومی اجازي راغلي ده او د فوځی اډو تصميم به هم پرته له دي نه چه قانونی مرحلی پلی کړي د عمل ډګر ته به ور ورسيږي. بلی مونږ افغانان قانونی حق لرو چه ددی اډو په هکله خپل نظر څرګند کړو، دا چه دا نظر به ترکومه حده ځانګړي ځای ونيسي او که نه؟؟؟ دا بيا بله موضوع ده. ولي په پرنسيپ کی دداسي کمزوري لغړ هيواد لپاره لکه افغانستان د فوځې اډو شتون په لنډه محال وخت کی ضروري ګڼل کيږی. دا ځکه زمونږ اوسني کمزوری اردو په همدغو جنګی وسايلو سره د کورني شخړو د توان او مقاومت وړتيا نلري او د ګاونډيانو سره د جګړي د څو شيبو مقاومت هم نشی کولاي. په همدغه ځانګړي دليل او علت مونږ اوس



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

مجبور یوو،  چه د بهرنیانو د کومک او مرستي څخه کار واخلو، په دی شرط چه د افغانستان په داخلي چاروکی فوځي لاس وهنه ونکړي. امریکا د نړۍ په ډیرو خپلواکو هیوادو کي فوځی اډۍ لري.  ولی دهغوي په کورنیو چارو کی لاس وهنه نه کوي.  دا ځکه چه په نورو هیوادو کي د فوځی اډو ځای، سرحد او چار پیریال په ځانګړي توګه په ګوته شوی دي. ولی په افغانستان کی په اوسنۍ محال کی د ځایی خلکو ژوند یواځی ددغو امریکا یی فوځیانو له لاسه په خطر کي لویدلی دي، او هره روځ زمونږ بیګناه هیواد وال خپل خوږ ژوند ددوي د ناسنجسو او بی ځایو بمباردونو له کبله له لاسه ورکوي. او دا لړۍ لا تر اوسه پوری روانه ده. امریکا او نور اروپایی هیوادونه باید خپل دریځ په دی هکله ډیر ژر روښن کړي.افغانی حکومت هم دنده لري چه د نړیوال قانون پربنسټ د فوځي اډو تولی لاري چاري په غور سره وڅیړي او د سمون لړۍ یی د خبرو او مشورو له لاری حل کړی. ترڅو په دی لاره کي دراتلونکي ستونځي د رامنځ ته کیدو مخه په ټینګه ونیول شي.  ولی دا کار د یوه منظم  او سنجیدلی پلان له مخي باید عمل شي، او د فوځي لنډ محاله اډو ټول مواد په ښکاره او څرګند ډول سره  د دواړو خواوو د تایید وړ وګرځی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ